AELSO

د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گام‌های مشترک برای مبارزه با فقر
له غربت سره د مبارزې لپاره ګډ ګامونه



## عزیزالله گلزاده

د ځوانانو ملاتړی او همکار

# ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوسایني لپاره متشبثین

/AELSO1 /AELSO2 aelso_afghanistan /aelso www.AELSO.org

# عزیزالله ګلزاده


## د ځوانانو ملاتړي او همکار



کابل، افغانستان

په وروستیو کلونو کې د دوامن امنیت او د هیواد د ښه اقتصاد نه شتون سره سره، په افغانستان کې د قهوې کلتور د پام وړ وده کړې او ځوان متشبثین د عصري قهوو په جوړولو سره سوداګرۍ او مصروفیت ته مخه کړې. په کابل کې د تفریحي ځایونو په نشتوالي کې دا عصري قهوې او رستورانتونه د ډیرو خلکو لپاره د خوښې او ګنې ګوښې ځای دی چې له خپلې کورنۍ او دوستانو سره پکې وخت تیروي.

په کابل کې یو له مشهورو قهوو څخه چې هرڅوک ورسره اشنا دي CupCake دی، چې په ۲۰۱۸ کال کې د عزیزالله ګلزاده له خوا تاسیس شوه، دوه ځانګې لري او اوس ۱۵ کارکوونکي لري. د عزیزالله پلار کرونګر دی، پنځه ورونه او څلور خویندې لري، ټول یو ځای ژوند کوي، هغه یادونه کوي، " چې د پلار د پریکړې خلاف؛ چې غوښتل یې زه هم د هغه په څېر بزګر شم، خو ما سرغړونه وکړه او د کورنۍ له مرستې پرته مې کاروبار پیل کړ." د CupCakeڅخه مخکې نوموړي د ۲۰۰٤ څخه تر ۲۰۱۸ پورې د ټکسي او سیاحتي شرکت اجراییوي رییس وه.



د کافي شاپ شاوخوا (فضا - ) The CupCake

عزیزالله ګلزاده په ماشومتوب کې د یو ښه ډیپلومات هیله درلوده، چې له نیکه مرغه نن د اقتصاد او نړیوالو اړیکو په برخه کې دوه لیسانسه لري او یوازینۍ کلمه چې د هغه شخصیت بیانولی شي صداقت او ریښینولي دی. عزیزالله په کابل کې زیږیدلی او د ښوونځي او پوهنتون دوره یې په کابل کې تیره کړې، همدارنګه هغه وایي:"د طالبانو د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې موږ د سختو امنیتي شرایطو له امله پاکستان ته مهاجر شو او په هماغه ماشومتوب کې د غالۍ (قالین) په اوبدلو او وروسته د غالۍ په سوداګرۍ بوخت شوم.



د کافي شاپ شاوخوا (فضا - ) The CupCake

د CupCake جوړولو دمخه، د مارکیټ لپاره مې یوه عمومي سروې ترسره کړه او د کیک د پخولو لپاره مې یو بهرنۍ کارمند وګوماره او یو کال یې زموږ سره کار وکړ او وروسته مې زده کوونکي (شاګردان) وروزل. د تنباکو او نورو مسایلو پر ځای مې په قهوه کې د محصلینو د څېړنې لپاره کتابونه او یو کوچنۍ کتابتون جوړ کړ او همدارنګه یادونه کوي،" چې موږ په بېلابېلو ولایتونو کې د پراخېدو په هڅه کې یوو، تر څو خلک د هوسا او آرامۍ احساس وکړي او اوس هم په همدې هڅه کې یم؛ زموږ موخه تل د خلکو ریښتینې خدمت کول دي". زه تل د ځوانانو او نارینه وو سره همکار وم ترڅو په خپلو پښو ودریږي، حتی که دوی سبا ورځ زما سیالان شي.

## عزیزالله ګلزاده


د ځوانانو ملاتړی او همکار



”د کافي شاپ شاوخوا (فضا -) The CupCake“

د CupCake له جوړولو وړاندې عزیزالله د یو کال لپاره د رسنیو د اداري مدیر په توګه دنده ترسره کوله، څو کاله یې د ټکسي شرکت درلود چې انجوګانو (مؤسساتو) ته یې خدمات وړاندې کول او سیاحت په برخه کې یې هڅوی ته د خدماتو زمینه برابروله، نوموړي د ښځو د پیاوړتیا په برخه کې یوه ټولنه هم جوړه کړې وه چې په شپږو ولایتونو کې یې مېرمنو ته د سفر د لارښوونو او د هوټلونو د ټرینینګ په برخو کې روزنه ورکوله کوم چې په ورته وخت کې یې د ټکسي شرکت سره خپل کار یو ځای مخ ته وړ. او له دې څخه هم یادونه کوي چې "ما د ډیرو کلونو لپاره د قهوې پلورنځي په لټه کې وم، مګر د پرله پسې مصروفیتونو له امله ونه توانیدم چې هغه ته ورسیږم، بالاخره خپل هدف او هیلې مې ترلاسه کړې او اوس زه د خوښۍ او رضایت احساس کوم.

د افغانستان په څېر هیواد کې د نوي سوداګرۍ پیل کول لوی خطر او لویې پانګونې ته اړتیا لري هغه وخت چې تاسو ښه وځلیدلی او خپل پیرودونکي مو په بازار کې ودرلودل، نو دا خطر او لویه پانګه به تاسو ته ډیري لاسته راوړنې درکړي. ډیری خلک د خطرونو په اخیستو او د خپلو افکارو او فکرونو په پانګه اچولو سره یې د ځان او خپلو کورنیو لپاره په زړه پوري سوداګرۍ رامینځته کړي البته په دې برخه کې د هڅوونکو رول او د شخص فردیت مهم ټکي دي، ښاغلی عزیزالله ګلزاده له دغو ټولو ورتیاوو څخه برخمن ده او داسې یادونه کوي: "د پوهنتون یو استاد واقعیا زما لپاره ښه لارښود و؛ ځکه چې ما مخکې له تجربې پرته سوداګري کوله خو هغه ماته په علمي او عملي ډول د سوداګرۍ او اقتصاد درس راکړ."




”د کافي شاپ شاوخوا (فضا -) The CupCake“


د مارکیټ د معیارونو درلودل او د کار په بازار کې د پیرودونکو لخوا خوښول نن ورځ د سوداګرۍ او متشبثینو نور ښه ټکي دي کوم چې کولی شي تاسو د سعود لوړو څوکو ته ورسوي، لکه څنګه چې عزیزالله ګلزاده پدې اړه وایي: هر پیرودونکی به چې Cup-Cake ته راته؛ ما ته به یې ویل چې تاسو ضرور په بهر کې ژوند کړی چې تاسو دا قهوې د نن ورځې له خورا عصري معیارونو سره مو ډیزاین کړې او رامینځته کړې مو ده." دې ټکي موږ ته نور هم قوت راکاوه چې په CupCake کې موږ تل د خپلو پیرودونکو باور او رضایت ترلاسه کړې پدې ورځو کې د باور او ملګرتیا فضا واقعیا لوړه شوې او موږ دایمي پیرودونکي لرو.

## عزیزالله ګلزاده

د ځوانانو ملاتړی او همکار






په ژوند کې د سترو لاسته راوړنو د ترلاسه کولو لپاره باید نوي او عصري مهارتونه زده او د نورو مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره باید په ځان پانګونه وکړېږ. عزیزالله وايي: "د کار په پیل کې مو لومړی د بازار په سروې، د ځای په انتخاب، ډیزاین او ډیکور باندې کار وکړ، بیا د قهوې ماشینونو د کارولو مهارتونو او د کافي شاپ د ټولو مسایلو د زده کولو لپاره مې یوټیوب د ځان زده کړې په توګه وکاراوه او خپل کار ته مې دوام ورکړ." دوی یوازې ځواب ویونکي نه دي ځکه موږ باید تل هڅه او کوښښ وکړو چې پر مخ کې شته ننګونې حل کړو او دوام ورکړو چې د دغه ځوان متشبث لپاره تر ټولو لویه ننګونه هغه وه چې کله بهرنی کارمند د کیک پخولو دنده پرېږدي او له یوې میاشتې وروسته په سختۍ سره یو بل څوک ځای پر ځای کوي.

انسان باید تل د ناڅاپي پېښو لپاره چمتو وي تر څو وده وکړي او هر انسان باید تل د ځان سره دوهم پلان ولري ترڅو په سختو شرایطو کې پایداره پاتې شي او ادامه ورکړي. په همدې حال کې د ښاغلي ګلزاده لپاره تر ټولو لویه ننګونه د کافي د پخولو په اصلي کار کې د مهارت نه درلودل وو. او همدارنګه امنیت یوه لویه ننګونه وه چې تل د بازار د بې ثباته کېدو لامل شوی؛ خو هغه دا هم وايي چې په ژوند کې له دغو ننګونو او ستونزو څخه ډېر درسونه زده شوي چې ځوانان کولای شي په خپل کاروباري سفر کې تري لویه ګټه واخلي،"له کار سره مینه، دوامداره هڅې او لټون د کار بازار په اړه پوهه درلودل ترڅو تاسو وکولی شئ مختلف کارونه پیل کړئ، تل د نورو ملاتړ او لاسنیونکی واوسئ، پرته له خپل ځان سره د هیچا سره سیالي مه کوئ".

" د کافي شاپ شاوخوا (فضا - The CupCake "


عزیزالله ګلزاده خپل ورونه د ژوند په ټولو ډګرونو کې د خپل تلپاتې ملاتړ په توګه یادوي، همدارنګه نوموړی له ځوانی څخه خپله یو رییس او متشبث وه او دا د هغه لپاره د ویاړ ځای ده، هغه چا چې ورسره کار کړی ډېر څه یې ور څخه زده کړي دي. لکه کلتور، نوي اداب، بیلابیلې نظرې منل او دا چې باور کول او د انسان پېژندل ډېر ستونزمن دي نورو ته د هغه شعار تل صداقت، سخت کار او د نورو سره مهربانۍ وه، او د خپلو پیرودونکو لپاره د مختلفو خدماتو په وړاندې کولو سره هغه خپل ځان یو بریالی شخص ګڼي، او خپلې ټولې لاسته راوړنې په خپلو څو مهارتونو کې لنډیز کوي، چې عبارت دي له؛ اړیکې، د بحران مدیریت، مثبت فکره او ټولنیزتیا.




" د کافي شاپ شاوخوا (فضا - The CupCake "


## د ځوانانو ملاتړی او همکار














” د کافي شاپ شاوخوا (فضا - The CupCake)

او عزيزالله ګلزاده د کافي شاپ مسؤل مدير له رسنيو سره د مرکې په حال کې

نن ورځ د عزيزالله ګلزاده کار او متشبث فعاليتونه نه يوازې د ځان او کورنۍ لپاره يې يوه لاسته راوړنه او وياړ ده؛ بلکې د CupCake کافي په نړيوالو معيارونو رامنځته کول، د کلتور د ودې لامل او ځوانان يې کتاب لوستلو ته هڅولي دي او د خپل راتلونکي هيلو په اړه داسې څرګندونې کوي، "زه د راتلونکي په اړه مثبت فکر کوم، زموږ هېواد د نن په پرتله له ډېرو سختو بحرانونو تېر شوی او دا ننګونې به هم تېرېږي، نن افغانستان د هېواد په ټولو ولايتونو کې د بېلابېلو فکرونو لرونکي ځوانان لري چې د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ لامل به ګرځي او زما تر ټولو ستره هيله دا ده چې د هېواد په ټولو ولايتونو کې د CupCake څانګې پرانيزم.